# بخش

# علوم اجتماعی

دو فصلنامۀ
علمی-تحقیقی عینک علمي- څېړنیزه شپږ میاشتنی مجله
د امتیاز خاوند: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه/مؤسسۀ تحصیلات عالی لوګر
تاریخ جواز مجله: ۱۴۴۴/۱۱/۱۴

# په اسلامي فقه او د افغانستان په قوانینو کې د تألیف او اختراع په حقونو د تېري اړونده احکامو څېړنه

**پوهنوال محفوظ الله عارفی[۱]، پوهنمل زاهدالله شینواری[۲] او پوهنمل شاهدالله صافی[۲]**

[۱] جزا حقوق ډیپارټمنټ، حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون. ننګرهار: افغانستان.

[۲] قضا او څارنوالی ډیپارټمنټ، حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، پکتیا پوهنتون. پکتیا: افغانستان.

برېښنالیک: faseh1396@gmail.com

## لنډیز

د مؤلف او مخترع په حقونو باندې د تېري بېلابېل صورتونه له اقتباس، د تألیف یا اختراع د چاپ نوی والی، د تألیف نامشروع ژباړه، په تالیف یا اختراع کې تغیر راوستل، د اختراع د خاوند څخه تقلید کول، د کمپیوټري برنامو او سمعي او بصري موادو کاپي کولو څخه عبارت دي. ددې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې یوه ټولنه د علم او تکنالوژی په مټ سره پرمختګ مومي او د دې پرمختګ د بقا لپاره په ټولنه کې په معیارونو برابر علومو او عصري وسایلوته اړتیا ده؛ نو دا اړتیا په هره ټولنه کې د تالیفاتو او اختراعاتو په اساس بشپړیږي، چې باید هر اړخیز ملاتړ یې ترسره شي.

د دې څېړنې د ترسره کولو څخه عمده موخه داده، چې د تالیف او اختراع په حقونو د تیري له احکامو او صورتونو څخه خبرتیا تر لاسه شي، ترڅو په ټولنه کې پدې اړه د عامه پوهاوي سبب شي. یاده څېړنه د کتابتوني میتود (تحلیلي) څخه په ګټې اخیستنې سره تر سره شوې، په دې څېړنه کې له معتبرو فقهي او حقوقي کتابونو څخه ګټه اخستل شوې او د یادې موضوع پورې اړونده د هېواد قوانینو څخه په ګټه اخیستنې سره بشپړه شوی ده. په پایله کې ویلی شو، چې د مؤلف او مخترع په حقونو باندې د تیري موارد په اسلامي شریعت او د افغانستان په قوانینو کې په ښه توګه روښانه شوي. دا په دې موخه، چې مؤلف او مخترع د یوې ټولنې په پرمختګ کې د پام وړ رول لوبوي؛ نو ځکه یې باید هر اړخیزه ملاتړ وشي.

**کلیدی ټکی:** احکام، اختراع، تألیف، تیري ، حقوق.

**استناد:** عارفی او ملګری. (1403) په اسلامی فقه او د افغانستان په قوانینو کې د تالیف او اختراع په حقوقو د تېری اړونده احکامو څېړنه. *دوفصلنامۀ علمی-تحقیقی **عینک** علمي-* څېړنیزه مجله، دویم کال، ګڼه 3، صفحه ۱۲۷-۱۴۸.

خپرندویه اداره: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه
حق‌مؤلف © نویسندگان.

**سریزه**

الحمد لله والصلات والسلام علی محمد المصطفی وعلی آله واصحابه اجمعین اما بعد!
قال الله تبارك وتعالی فی محکمه کتابه: فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم ( یَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِینَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِینَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِیرٞ ). (المجادله، آیت ۱۱). ژباړه: پورته کوي الله ﷻ هغه کسان، چې ایمان یې راوړی دی له تاسې څخه او په خا ص ډول پورته کوي هغه کسان، چې دوی ته علم او پوهه په درجو او مرتبو کې ور کړل شوې ده او الله ﷻ په هغه کارونو خبر دار دی، چې تاسې یې کوئ. وقال رسول الله صلی الله وعلیه وسلم: ( اعطوا لاجیر اجره قبل ان یجف عرقه). ( البیهقی، ۱۴۲۲ ق: ۱۲۱). ژباړه : رسول الله صلی الله وعلیه وسلم فرمایي: مزدور ته د هغه اجوره ورکړئ مخکې له دې چې د هغه خوله وچه شي.

دا چې د یو هېواد او ټولنې پرمختګ او د سیالانو سره سیالي کول په علم او تکنالوژۍ سره تر سره کیږي؛ نو د دې اړتیا احساسیږي، تر څو د علم له دریاب څخه یو یو څاڅکی راجلا او ترتیب شي او د ټولنې د وګړو تر ذهنونو په اسانی سره ورسیږی. همدارنګه د تکنالوژۍ او تخنیك څخه داسې وسایل مهیا شي، څو د ګټورې استفادې وړ وګرځي، چې دغه نا اشنا کارونه بلاخېره مؤلفین او مخترعین په خپل فکري نوښت او هڅو سره د حقیقت لوړو پوړیو ته رسوي. مؤلفین او مخترعین په خپل فکري کوښښ او هڅو سره ټولنې او د ټولنې وګړو ته د ژوند اسانتیاوې برابرو؛ نو ضرور ده، چې په ټولنه کې د تیري کوونکو افرادو څخه د دوی حقونه خوندي وساتل شي او دا ډول افراد د تیري په صورت کې د زیان په جبران او همدارنګه په ټاکلې اندازه حبس باندې مجازات شي. دا مقاله د تألیف او اختراع په حقونو د تیري په موضوع باندې را څرخي، تر څو د ټولنې ټول وګړي ترې خبر وي او د دغه ډول ناوړه عمل ترسره نه کړي.

**الف: د څېړنې مسئله**

په ټولنه کې د مؤلف او مخترع د حقونو په اړه عامه پوهاوی نشتوالی نشته او بله داچې په یادو حقونو د تیري بڼې بېلابېلې دي او په دې ټولو باندې پوهېدنه د عامو خلکو پوهاوي ته اړتیا ي.ی. همدا لامل دی، چې په ټولنه کې د خلکو له لوري په دې مسایلو باندې د پوهاوي په شتون یا په ناپوهۍ سره ( په شعوري او غیر شعوري توګه) د مؤلف او مخترع په حقونو تیری کیږي. دا یوه لویه ستونزه ده، نو دا لیکنه به یاده ستونزه تر ډېره بریده حل کړي او هغه داسې، چې د تألیف او اختراع په حقونو باندې د تیري او تجاوز اړونده مواردو په اړه به ټولنې ته د پوهاوي په موخه د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو احکام وړاندې شي.

**ب: د څېړنې اهمیت**

لکه مخکې مو چې اشاره وکړه، ټولنه په علم او تکنالوژۍ سره پرمختګ کولای شي. د یاد پرمختګ د لا پایښت او دوام لپاره اړینه ده، چې په هره برخه کې زموږ ټولنه د وخت او اړتیا مطابق نوي او په

پوره معیارونو برابر علوم رامنځته کړي او د مؤلف او مخترع د حقونو په خونديتوب کې بشپړه همکاري وکړو او دوی ته په دې برخه کې د نور پرمختګ جرأت په برخه کړي؛ نو یاده څېړنه هم په دې ډګر کې خلکو ته د عامه پوهاوي په برخه کې د خورا اهمیت څخه برخمنه ده.

**ج: د څېړنې هدف:**

د یادې موضوع د څېړنې څخه عمده هدف دادی، چې د تألیف او اختراع په حقونو د تیري له صورتونو څخه او همدارنګه په دې برخه کې د اسلامي فقهې ( حنفي فقهې) او د افغانستان د قوانینو څخه پوهاوی ترلاسه شي، چې دا چاره له تیري څخه د نوموړو حقونو په خونديتوب کې ګټوره تمامېدلی شي.

**ج: د څېړنې پوښتنې**

په یاده څېړنه کې دوه ډوله پوښتنې د مطرح کیدو وړ دي

**اصلي پوښتنه**: د تألیف او اختراع په حقونو تېری د کوم ډول احکامو درلودنکی دی ؟

**فرعي پوښتنه**: مؤلف او مخترع د حقونو د نقض په صورت کې کوم ډول موئیدات د تطبیق وړ دي؟

## مواد اوکړنلاره

د موضوع محتوا ته په کتو سره یاده څېړنه د کتابتوني میتود (تحلیلی میتود) څخه په ګټې اخیستنې سره تر سره شوې. له معتبرو فقهي او حقوقي کتابونو او د یادې موضوع پورې اړونده د هېواد قوانینو د احکامو او قواعدو تحلیل په اساس مو یاده څېړنه ترسره کړې ده.

**۱. د تألیف او اختراع حقونو پېژندنه**

پورته موضوع دوه برخې لری، چې یوه د تألیف حق او بل یې د اختراع حق پېژندنه ده؛ نو مونږ هم دا موضوع په دوو جلا جلا سرلیکونو تر څېړنې لاندې نیسو

**۱. ۱. د تألیف پېژندنه**

تألیف عربی کلمه ده په لغت کې په داسې ډول د ډیرو شیانو ترکیب، چې په هغې باندې د یو شي اطلاق وشي.( الجُرجانی، ۱۴۱۳ق: ۴۵). همدارنګه د مناسبو شیانو یو ځای کولو ته هم تألیف ویل کیږي؛(گروه مؤلفین انتشارات ایمان ،۱۳۸۳: ۸۰ ). په اصطلاح کې تألیف د هغه ځانګړي شرعي او قانوني حق څخه عبارت دی، چې د لیکونکي او عالم لپاره په لیکل شوي اثر ثابت شوی وي او لیکونکی د دغه حق په اساس کولای شي لیکل شوی اثر ځان ته ځانګړی کړي، تصرف په کې وکړي او د نورو له تیري څخه یې مخنیوی وکړي. ( نذیر، ۱۳۹۷: ۸۵).

**۱. ۲. د اختراع حق پېژندنه**

اختراع عربی کلیمه ده، چې په صنعتي برخه کې هر یو نوی ،ګټور او د تطبیق وړ فکر یا ذهني فعالیت ته ویل کیږي.( وهبة، المهندس، ۱۹۸۴: ۱۰). همدارنګه د ابداع، انشاء، احداث، رامنځته کولو او

پیداکولو په معنا سره کارول کیږی.(گروه مؤلفین انتشارات ایمان ،۱۳۸۳: ۱۵ ). همدارنگه اختراع په لغت کې د یوه شي له انشاء او رامنځته کولو څخه عبارت ده (معین، ۱۳۸۸: ۱۱۲).

په اصطلاح کې د اختراع حقوق د هغه شرعي اختصاص څخه عبارت دی، چې یوازې د مخترع لپاره د هغه څه په اړه چې اختراع کړی یې دی، ثابتیږي او د هغې په اساس مخترع کولی شي، چې اختراع شوی شی خپل ځانته منسوب کړي او د مادي امتیازاتو څخه یې چې د هغه مشروع سرمایه اچونې سبب گرځي، په انحصاري توگه گټه پورته کړي. ( الشهرانی، ۲۰۰۴: ۳۶۰ ).

**۲. د تألیف او اختراع په حقونو تېری او اړونده احکام یې**

د مؤلف او مخترع په حقوق باندې د تېري بېلابېل صورتونه د لاندې سرلیکونو په ترڅ کې تر بحث لاندې نیسو

**۲. ۱. اقتباس**

اقتباس د اور د لمبې، د اخیستلو او نیولو په معنا دی. (گروه مؤلفین انتشارات ایمان ،۱۳۸۳: ۳۹ ). همدارنگه په مستعار ډول د علم زده کړې او علمي استفادې لپاره کارول کیږي.( عمید، ۱۳۸۹: ۱۵۴). لکه څرنگه چې الله تعلی په قران کریم کې فرمایی: ( اِذْ رَاٰ نَارًا فَقَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا اِنِّیْٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّیْٓ اٰتِیْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ اَوْ اَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى). (سُوْرَةُ طٰهٰ، آیت نمبر ۱۱). ژباړه: کله چې هغه یو اور ولیده او خپلې کورنۍ ته یې وویل چې : لږ تم شئ ما یو اورلیدلی دی ښایي چې تاسې ته یوه سکروټه راوړم، یا په دې اور باندې زه کوم لارښوونکی ومومم.

د اقتباسي اثر د اصطلاحي تعریف په اړه د مؤلف، مصنف، هنرمند او محقق د حقونو څخه د ملاتړ قانون (دریمه) ماده وایي: اقتباسي اثر هغه نوی اثر دی، چې د نورو پنځوونکو له مخکیني اثر یا آثارو څخه په گټې رامنځته شوی وي. ( د مخترع او مکتشف د حقوقو د ملاتړ قانون ، ۱۳۸۷: ماده ۳).

له اثارو څخه اقتباس، که هغه د لفظونو اقتباس وي یا د معنا او یا هم د الفاظو او معنا اقتباس وي، د مباحو چارو له جملې څخه دی او هر څوک چې وغواړي کولای شي، چې د نورو له آثارو او تألیفونو څخه د هغه د مؤلف یا لیکوال له اجازې پرته علمي گټه واخلي؛ خو په دې شرط چې اقتباس کوونکی د اقتباس په وخت کې ځان د علمي امانت په رعایت مقید کړي.( فضلی، ۱۳۹۹: ۱۲۶-۱۲۷).

یعنې هر کله چې یو مؤلف د کتاب، مقالې یا داسې نورو د لیکلو په موخه، د نورو له آثارو څخه گټه اخلي، باید هر مطلب، چې د هر لیکوال له اثر څخه یې اقتباس کوي، په هماغه کتاب او د هماغه لیکوال په اثر پورې منسوب کړي او پرته له دې یې د هغوی پر حقونو باندې تیری کړی دی او دا به له علمي یا ادبي غلا یا نورو د آثارو او افکارو له غلا پرته بل څه نه وي.( قاسم‌نژاد،ب-ت : ۱۱۵).

دغه ډول اقتباس په واقعیت کې له علمي خیانت او د نورو پر حقونو باندې تیری دی. د نورو د معنوي گټو او افکارو په پایلو باندې تیری غلا ده او د اسلامي شریعت له مخې حرام کار دی؛ څکه الله جل جلا له فرمایلي دي:

(لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡرَحُونَ بِمَآ أَتَواْ وَّيُحِبُّونَ أَن يُحۡمَدُواْ بِمَا لَمۡ يَفۡعَلُواْ فَلَا تَحۡسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٖ مِّنَ ٱلۡعَذَابِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ). ( سورت ال عمران آیت ۱۸۸).

ژباړه: په تحقیق سره هغه کسان دې گمان نه کوي، چې څه يې کړي، په هغو خوشحالي کوي او دا خوښوي، چې څه يې نه دي کړي، په هغو وستایل شي، هیڅکله دې گمان نه کوي، چې د هغوی لپاره له عذاب څخه نجات شته، دردونکی عذاب به ولري.

دا مبارك آیت پدې باندې دلالت کوي، چې کله یو څوك د بل چا له لیکنو څخه گټه پورته کوي او بیا يې ځانته منسوبوي او پدې خوښ وي، چې په هغه څه چې ده نه دی کړی او د بل چا څخه يې اقتباس کړی په هغه باندې په خلکو کې وستایل شي، چې د پوره علم خاوند دی او ښه لیکنه يې کړی نو دا کار حرام عمل دی او د الهي عذاب وسیله گنل شوې ده.

همدارنگه د حضرت ابوذر رضی الله عنه څخه روایت دی( هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي، چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي :( مَنْ دَعَا مِنْ شَئٍ لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنِّیْ.). ( القزوینی، ب-ت ص۱٦۷).

ژباړه: څوك چې د هغه څه ادعا وکړي، چې د هغه نه وي، نو زموږ له ډلې څخه نه دی او خپل ځای باید په اور کې جوړ کړي. نو دغه حدیث شریف هغو لیکوالانو ته خطاب دی، چې په خپلو لیکنو او مقالو کې د نورو له آثارو او تألیفاتو څخه گټه اخلي؛ خو کوم مطالب او موضوعات، چې د هغوی له آثارو څخه يې اقتباس کوي، د هغو په اصلی خاوندانو پورې يې نه منسوبوي او داسې ښيي، چې د دغه استفاده شوو مطالبو مبتکر او پنځوونکي پخپله دوی دي.

زمونږ د هیواد د مؤلف،مصنف، هنرمند او محقق د حقونو د ملاتړ قانون د اقتباس د حالتونو او له اثر څخه د استفادې په اړه داسې وایي:

لومړی: د کوچنیو آثارو یا د آثارو د لنډیز بیا تولید په تعلیمي موسسو کې د تدریس په موخه، چې موخه ترې د مستقیمو یا غیر مستقیمو سوداگریزو گټو لاسته راوړل نه وي، جایز دي پر دې شرط چې:

۱- د بیا تولید عملیه د یو ځل لپاره وي او د تکرار په صورت کې د هغه مواد باید جلا او له یو بل څخه بېل وي.

۲- د یو لړ هغه حقونو، چې ښوونیزه موسسه له هغو باید خبره شي، په تنظیم کې د ذی صلاح مرجع له خوا د بیا تولید لپاره ډلهییز جواز موجود نه وي.

۳- په ټولو نسخو کې د پنځوونکي نوم او د اثر عنوان یاد شوی وي.

دویم : د یو اثر د نقل کاپي کولو او نسخه اخیستل له هغه څخه د گټې اخیستو په موخه د لاندېنیو شرایطو له مخې جواز لري:

۱. په هغه صورت کې چې د مستقیمې یا غیر مستقیمې مادي گټې تضمینوونکې نه وي.

۲. په هغه صورت کې چې خپره شوې مقاله، د اثر تلخيص يا اقتباس وی او نسخه اخيستل د شخصی اړتياوو د لرې کېدو په موخه د لاندينيو مواردو په رعايت سره ترسره شوی وی:

-کتابخانه يا آرشيف ډاډمن شي، چې کاپي يوازې د مطالعې يا څېړنې په موخه د يو ځل لپاره د ګټې اخيستو وړ ګرځي.

- د يو لړ هغه حقونو چې ښوونيزه مؤسسه له هغو بايد خبره شي، په تنظيم کې د ذی صلاح مرجع له خوا د بيا توليد لپاره ډلهييز جواز موجود نه وي ( د مؤ لف، مصنف، هنر مند او محقق د حقوقو د ملاتړ قانون، ۱۳۸۷: ماده ۴۰ (۱ او۲) ).

دريم : د بل ورته کتابتون يا آرشيف په دايمي کلکسيون کې د اصلي نسخې د ساتنې يا ورکې شوې ، له منځه تللې يا د بې ګټې نسخې د تعويض په موخه د اړتيا په وخت کې بيا توليد يا تکثير د لاندينيو شرايطو له مخې جواز نه لري:

الف: تر معقولو شرايطو لاندې د هغه د نسخې يا کاپي تر لاسه کول ناممکن وي.

ب: د بيا توليد يا فوتو کاپي عمل، يو ځلې حالت ولري. ( د مؤ لف، مصنف، هنر مند او محقق د حقوقو د ملاتړ قانون، ۱۳۸۷: ماده ۴۰ (۳) ).

### ۲. ۲. د اختراع د توليد يا تأليف د چاپ نوی والی

د معنوي ملکيت د حقونو خاوند، چې هر کله خپلې اختراع يا تأليف څخه فارغ شي، د معمول په ډول د هغه د توليد او خپرېدو په هڅه کې کيږي. طبعی ده، چې دغه کار له بل لوری سره د عقد د کولو له لارې ترسره کيږي. د اختراع شوي شي بيا توليد يا د تأليف شوي کتاب د بيا چاپ کولو دغه حالت يو مشروع صورت دی؛ ولې ځينې وختونه دا کار بيا په نامشروع توګه تر سره کيږي او د اختراع شوي شي د بيا توليد او د تأليف شوي اثر د بيا چاپ نا مشروع صورتونه هغو صورتونو ته ويل کيږي، چې په هغه کې د معنوي ملکيت اړونده حقونه که هغه معنوي حقونه وي يا مالي حقونه، د تيري لاندې راځي، چې نوموړي صورتونه په لاندې ډول په ګوته کولای شو:

الف : د معنوي ملکيت د حقوقو خاوند د کارخانې له مالك يا له خپرندويه ټولنې سره د اختراع معين شمېر بېلګو د توليد يا د کتاب د محدود شمېر نسخو د چاپ پر بنا يو قرارداد لاسليکوي او وروسته له هغه د کارخانې مالك يا د چاپ خونې څښتن د معنوي ملکيت د حقونو د خاوند له اجازې يا خبرتيا پرته ، له توافق وړ اندازې څخه ډېر توليد يا چاپوي او په دې ډول غواړي، چې ډېره ګټه لاسته راوړي. ( سعيدی، ۳/قوس/۱۳۹۹).

ب : د معنوي ملکيت د حقونو خاوند د کارخانې له مالك يا له خپرندويه ټولنې سره د اختراع معين شمېر بېلګو د توليد يا د کتاب د محدود شمېر نسخو د چاپ پر بنا يو قرارداد لاسليکوي او وروسته له دې چې د اتفاق وړ بېلګې يا نسخې توليد يا چاپ کيږي ، يا ټول پلورل کيږي، يا د هغوی اکثريت پلورل کيږي، د کارخانې خاوند يا د چاپخونې مالك د معنوي ملکيت د حقوقو د خاوند له

اجازې او خبرتیا پرته، د دویم ځل لپاره د هغې اختراع په تولید یا د نوموړي کتاب په چاپ لاس پورې کوي (فضلی، ١٣٩٩: ١٢٩).

ج : د معنوي ملکیت د حقوقو خاوند د کارخانې له مالک یا له خپرندویه ټولنې سره د اختراع معین شمېر بېلګو د تولید یا د کتاب د محدود شمیر نسخو د چاپ پر بنا یوازې د یو ځل لپاره قرارداد لاسلیکوي او د قرارداد له نافذیدو او بازار ته د اختراع شوي یا تألیف شوي شي له وړاندې کولو وروسته د یوې بلې کارخانې مالک یا د بلې خپرندویې ټولنې خاوند د معنوي ملکیت د حقونو د مالک یا د عقد د لوري کارخانې یا خپرندویې ټولنې له اجازې پرته د نوموړې اختراع یا کتاب په تولید او چاپ لاس پورې کوي. پورتنې درې ګوني صورتونه د معنوي ملکیت حق د خاوند پر حقوقو تیری ګڼل شوی، چې د اسلامي شریعت د احکامو له مخې دا کار حرام او منعه دی (نذیر، ١٣٩٧: ٢١٧).

لکه څرنګه چې الله ﷻ په قران کریم کې فرمایي:

(يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا).(سُوْرَةُ النِّسَاء، آیت نمبر ٢٩). ژباړه: (ای مؤمنانو! په خپلو مینځو کښې یو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، مګر خورئ یې چې راکړه ورکړه د دواړو خواو په خوښی سره (په روا توګه) وي او خپل ځانونه مه وژنئ باور ولرئ چې الله پر تاسې مهربان دی).

دا مبارک آیت پدې باندې دلیل دی، چې د اختراع شوي شي د بیا تولید او د تألیف شوي اثر د بیا چاپ نا مشروع صورتونه، چې پورته توضیح شول، په حقیقت کې په ناروا او حرامه طریقه د بل چا د مال خوړل دي او له دې کار څخه الله تعالی د منعې حکم فرمایلی دی.

همدارنګه نبي کریم علیه سلام په یو مبارک حدیث کې داسې فرمایلي دي:( مَنْ دَعَا مِنْ شَيءٍ لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنِّيْ.). (القزوینی، ب-ت ص١٦٧). ژباړه: څوک چې د هغه څه ادعا وکړي، چې د هغه نه وي، نو زموږ له ډلې څخه نه دی او خپل ځای باید په اور کې جوړ کړي.

له دې مبارک حدیث څخه هم په ډاګه معلومیږي، چې که د تولیدي مؤسسې یا د تالیف د چاپخونې څښتنان د اختراع د تولید او د تالیف د چاپ او نشر په برخه کې په داسې کړنو لاس پورې کوي، چې دوی ته یې اجازه نه وي ورکړل شوې؛ نو دا کار نبی علیه سلام غندلی او ددې ډول کړنو تر سره کوونکي یې د اور مستحقین بللي دي.

## ٣.٢. د تألیف ژباړه

د ژباړې کلمه د عربې ژبې له التَّرْجَمَة کلمې څخه اخیستل شوې، چې معنی یې د یو اصلي لیکل شوي متن، د مصدر له ژبې څخه یوې بلې ژبې ته د اړولو څخه عبارت ده(هشام علی جواد،٢٠١٠: ١٨).

په همدې ترتیب سره ژباړه له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د تعبیر په معنا سره ده (ګروه مؤلفین انتشارات ایمان ،١٣٨٣: ٨۴). یا له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د یوه مطلب د روایت کولو لپاره کارول شوې ده (عمید، ١٣٨٩ :٣٣٦).

په اصطلاح کې له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د یوې موضوع یا متن تعبیرول او اړولو ته ژباړه ویل کیږي. پدې ځای کې ورڅخه هدف دادی، چې یو تألیف له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته واړول شي یا وژباړل شي (کزازی، ١٣٧٤: ١١-١٢).

ژباړه هم یو ډول ابتکار دی او دغه ابتکار د ژباړې د معانیو په فهم، د اړولو په اسلوبونو او طریقو، د بلې ژبې له کلیمو او عبارتونو سره د افکارو او مفاهیمو په تعبیر کې داسې انعکاس مومي، چې د ژباړن د ذهني وړتیا اثار او نبښې او د هغه فکري توانایي ګنل کیږي (نذیر، ١٣٩١: ٤١٥).

په دې هکله چې آیا د اثر خاوند کولای شي بلې ژبې ته د خپل اثر د ژباړلو څخه ژباړن منعه کړي یا نه، د معاصرو فقهاوو او لیکوالانو له خوا دوه ډوله نظرونه وړاندې شوي دي (فضلی، ١٣٩٩: ١٣٠).

**لومړی نظریه** : دغه ډله علماء په دې باور دي، چې د اصلي اثر خاوند نشي کولای، چې د خپل اثر په اړه د خپلو حقونو د ملاتړ غوښتنه وکړي اوخلک نورو ژبو ته د هغه له ژباړې څخه منعه کړي، بلکې ژباړن چې د هر اثر ژباړه وغواړي، کولای شي چې هغه د اصلي مؤلف د اجازې پرته په هره ژبه یې چې غوښتي وي وژباړي؛ خو په دې شرط چې معنوي حقونه یې د خپل مؤلف لپاره وساتي.

د دغې نظریې پلویان د خپلې نظریې د اثبات لپاره لاندې دلایل وړاندې کوي:

-کوم کړاوونه چې اصلي مؤلف د تألیف په برخه کې ګاللي دي، ژباړن یې هم زغمي؛ ځکه ژباړن هڅه کوي، څو د هغه ژباړه له اصلي اثر سره په سمون کې وي.

- د علومو په ځانګړي ډول د شرعي علومو خپرول او د خلکو لاسونو ته د هغو رسول په ځانګړي ډول په اوسنیو شرایطو کې چې له نورو ملتونو سره اړیکه ډیره اسانه شوې ده، په هغو ژبو سره چې خبرې پرې کوي واجب ده او هر کله چې د آثارو ژباړه که د هغو د مؤلیفینو له اجازې پرته تر سره شي، واجب الاداء بلل کیږي.

- په اوسنیو شرایطو کې نورو ملتونو په مختلفو برخو؛ لکه صنعت، روغتیا، انجنیري، معلوماتي تکنالوژي او داسې نورو کې ډیر پرمختګ کړی دی او په دغو برخو کې یې ډیر قیمتي آثار لیکلي دي او مسلمانان هغو ته ډیره اړتیا لري؛ نو که ددغه آثار ژباړه که د هغو د مؤلفینو له اجازې پرته هم وي جایز وګڼل شي، نو د اسلامي امت مصالح به په مجموع کې تأمین شي (نذیر، ١٣٩٧: ٢١٩).

**دویمه نظریه** : دغه ډله په دې نظر دي، چې د اثر اصلي خاوند کولای شي، چې د خپل اثر په اړه د خپلو حقونو د ملاتړ غوښتنه وکړي او نور خلک، نورو ژبو ته د هغو له ژباړې څخه منعه کړي. له دې مخې، ژباړن نه شي کولای، چې هېڅ اثر د هغه د مؤلف له اجازې پرته وژباړي د دې نظریې پلویان وایي، اصلي مؤلف یا ناشر په هغه صورت کې د اثر د ژباړلو څخه د نورو د منعه کولو حق لري، چې په خپل اثر کې یې لیکلي وي، چې د دغه اثر ژباړه نورو ژبو ته ممنوع ده او که داسې ونکړي د هغه په ژباړې یا یې د ځینو برخو په ژباړه کې هیڅ ډول ستونزه نشته (ابوالتقی، ١٣٩٩: ١١٨-١١٩).

د مؤلف په حقونو پورې اړونده قوانینو او حقوقپوهانو همدا دویمه نظریه منلې ده او دخپل نظر دسمون لپاره په لاندې دلایلو استدلال کوي.

۱: له ژباړې څخه مطلب د اثر اړول دي له يوې ژبې څخه بلې ته، دا کار ددې غوښتنه کوي، چې ژباړن بايد ځواکمن، دقيق او امين شخص وي؛ خو په اوس وخت کې دا سې ډېر کم ليدل کيږي، چې ژباړن دې دا ځانګړتياوې ولري، نو ممکنه ده چې ژباړونکی د مؤلف اثر داسې وژباړي، چې مؤلف د خبرې مطلب نه وي او د داسې ژباړې په پايله کې د مؤلف علمي پانګه متضرره کيږي، نو بايد داسې يو شخص، اثر له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته و ژباړي، چې د ژباړې اهليت ولري او که چېرې د ژباړې اهليت ونه لري او يا هم اهليت ولري خو په قصدي شکل غواړي د مؤلف په اثر کې د ژباړې له لارې تغير راولي، نو په دې حالت کې د مؤلف په حقونو تېری کوونکی او خاين پېژندل کيږي.

۲: د مؤلف له اجازې څخه پرته د هغه د اثر ژباړل مؤلف د مالي حقونو له اړخه زيانمن کوي، ځکه په دې حالت کې يا د پيسو په بدل کې د ژباړې په حق کې د تصرف له لارې او يا هم له دې لارې، چې د اثر ژباړه نسبت اصلي اثر ته زياته وځليږي، مؤلف د زياتو پيسو د لاس ته راوړلو اصلي چانس له لاسه ورکوي، ولې دا چې له دې لارې مؤلف له مالي اړخه زيان ويني يقيني خبره نه ده، بلکی احتمالي ده، نو چې احتمالي ده؛ نو د اعتبار وړ هم نه ده همدارنګه له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته داثر ژباړل مؤلف د خپل اثر له مستحق والي څخه نه غورځوي،ځکه په همغه شکل لکه د اثر د ژباړې څخه مخکې، چې په مؤلف پورې منسوب و، له ژباړې څخه وروسته يې هم مؤلف ته نسبت کيږی. نو په همدې اساس د اثر ژباړه هغه له دې مفهوم څخه نه غورځوي (نذير، ۱۳۹۷: ۲۲۰).

د فقهاوو د نظرياتو او دلايلو له بيانولو او توضيح څخه وروسته لاندې مهم ټکي په لاس راځي:

لومړی: که چېرې مؤلف په خپل اثر کې دا جمله (ددې اثر ژباړل نورو ژبو ته منع دی ) نه وي ليکلې، په دې صورت کې د اثر د ژباړلو په برخه کې هېڅ مانع نشه او ژباړل يې جايز دي.

دويم: هرکله چې د اسلامي اثارو له ژباړلو څخه هدف د اسلام په لوري دعوت او د احکامو بيانول وي، په دې صورت کې د اثارو ژباړه پرته د اثر د اصلي مؤلفينو له اجازې څخه جايز ده، ځکه په دې صورت کې ژباړه د اسلامي دين د تبليغ او هغې ته د دعوت کولو وسيله ده. اسلامي امت مکلفيت لري، چې د قرآنکريم الفاظ، د هغې معناوې او د اسلامي شريعت احکام تر نورو ملتونو او ټولنو پورې ورسوي. دا روښانه خبره ده، چې د الهي رسالت تبليغ نورو ملتونو ته د ژباړې له طريقې څخه بغير نه شي ترسره کېدلای او همدارنګه د ژباړونکو په دې مکلف کول، چې خامخا بايد د ژباړې په وخت کې د اثر د اصلي خاوند څخه اجازه واخلي د دين دتبليغ او دعوت له اهدفو سره سمون نه خوري، ځکه چې پداسې يو حالت کې د اثر له اصلي خاوند څخه اجازه اخيستل مشکل کار دی او کله کله ناممکن هم دی (نذير، ۱۳۹۷: ۲۲۱).

درېيم: که چېرې د اثر څښتن پرته له دې چې مسلم وي يا غير مسلم، ژباړونکو ته د خپل اثر د ژباړلو اجازه ورنه کړی، نو د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې چې د اثر ژباړه د مسلمانانو په ګټه وي او د

هغوی مصلحتونه تأمينوي، نو په دې صورت کې د اثر ژباړه د اثر د خاوند له اجازې پرته جايز ده، که څه هم چې دا کړنه د اثر د مالک شخصي مصالح له خطر سره مخامخ کوي، خو دا پروا نه لري ځکه چې د اثر ژباړه د اسلام او مسلمانانو د عمومي مصالحو د تأمين لپاره تر سره کيږي او په دې اړه يوه فقهي قاعده هم شته چې وايي: ( د عمومي مصالحو د لاسته راوړلو لپاره شخصي مصالح له پامه غورځول کيږي ) ( نذير، ۱۳۹۷: ۲۲۲).

ځلورم: له ذکر شويو حالاتو څخه پرته، که څوک وغواړي کوم اثر و ژباړي، نو بايد له اصلي مؤلف څخه يې اجازه ترلاسه کړي. که څه هم چې ژباړه يو ابتکار او نوې لاسته راوړنه ده، ولې بيا هم دا د بل شخص په تأليف کې يو ډول تصرف دی، ځکه چې له ژباړې وروسته د ژباړل شوي اثر نسبت بيا هم د اثر اصلي مؤلف ته ورکول کيږي او اصلي مؤلف د اثر مسؤوليت پر غاړه لري. د يادولو وړ ده، چې د اثر د ژباړلو اجازه د اثر د مالک څخه هغه وخت شرط ده، چې ژباړونکی وغواړي له ژباړې څخه وروسته ژباړل شوی اثر چاپ او نشر کړي، ولې که چېرې د ژباړونکي موخه د ژباړل شوي اثر چاپول او نشرول نه وي، بلکې موخه يې شخصي ګټه وي، نو په دې صورت کې د اثر د اصلي مؤلف څخه د ژباړې اجازه شرط نه ده .مهمه خبره دلته داده، چې ژباړونکی سربېره پر دې چې په ژباړه کې هڅه او خواري کوي او په دې برخه کې زحمتونه او تکليفونه ګالي، په ډېر دقت او د مفاهيمو په ښه تعبير او د غوره اسلوبونو په ټاکلو سره يو ډول ابتکار له ځانه ښايي، نو په همدې اساس د حقونو د ملاتړ څخه برخمن ګڼل کيږي، لکه څنګه چې د اثر اصلي مؤلف ور څخه برخمن دی( محمدزاده وادقانی، ۱۳۹۸: ۲۶۸).

**۲. ۴. په تأليف او اختراع کې بدلون راوستل**

تر دې عنوان لاندې مونږ دوه مطلبونه تر بحث لاندې نيسو، چې په لومړي مطلب کې د تاليف او اختراع په نوم يا سرليک کې بدلون راوستل او په دويم مطلب کې به په خپله د تأليف او اختراع په ذات کې د بدلون راوستلو موضوع تر څېړنې لاندې ونيسو، چې په ترتيب سره په لاندې توګه ور باندې بحث کوو .

**۲. ۴. ۱. د تأليف او اختراع په نوم يا سرليک کې بدلون راوستل**

نوم ايښودنه او يا د سرليک ټاکل د تأليف يا اختراع شوي شي لپاره د تأليف يا اختراع د خاوند د حقونو له جملې څخه ګڼل کيږي. لکه څرنګه انسان حق لري، چې د خپلو اولادونو لپاره مناسب نوم انتخاب کړي، په همدی ډول سره دا حق د تأليف شوي اثر يا اختراع شوي شي په برخه کې هم لري او کولای شي هغه نوم چې مناسب يې ګڼي د خپل تاليف کړي اثر يا اختراع کړي شي لپاره وټاکي (شيما، ۲۰۱۴م: ۱۳۴).

دا چې تاليف يا اختراع د انسان د عقل او فکر ثمره ده، نو په همدې اساس د يو بل چا لخوا د تاليف شوي اثر يا اختراع شوي شي نوم بدلول يا له منځه وړل دا هم د تاليف يا اختراع د اصلي مؤلف په حقونو باندې يو دول تيری دی او هيڅ کله جواز نه لري (فضلی، ۱۳۹۹: ۱۳۲).

د تالیف په نامه یا عنوان کې د بدلون راوستل بېلابېل صورتونه لري، چې د هغې له جملې څخه د لاندې صورتونو څخه یاودنه کولای شو:

۱-کله داسې کیږی، چې اثر په یوه تاکلي نامه سره چې اصلي مؤلف ورته ټاکلی وي نشریږی او بیا يې په سرلیک کې د کلي یا جزئي بدلون راوړلو وروسته د بیا ځل لپاره چاپ او نشریږي دا ډول بدلونونه په پخوانیو تالیفاتو کې لیدل کیږي او داسې کتابونه هم شته، چې څو ځلې په بېلابېلو نومونو باندې چاپ شوي دي. پداسې حال کې چې ددې نومونو له جملې څخه هیڅ یو یې هم د اثر د اصلي مؤلف له خوا ټاکل شوی نه دی. د اثارو په نومونو کې دا ډول بدلونونه ډېری هغه کسان راوړي، چې ددې ډول اثارو څېړنه ترسره کوي او یا هم هغه مطبعې چې اثار نشر ته سپاري ددې لپاره چې خلک ددې اثارو پېرودلو ته و هڅوي، نو په نوم یا سرلیک کې یې بدلون راوړي (الشهرانی، ۱۴۲۹ق: ۴۸۸).

که چېرې ثابته شوه، چې اصلي مؤلف د خپل اثر لپاره نوم یا سرلیک نه و ټاکلی، نو په دې صورت کې د اثر اصلي مؤلف د نوم ایښودنې به برخه کې خپل حق له منځه وړی او دا کار یې د نورو لپاره مباح گرځولی دی، نو هغه کس چې ددې اثر د چاپ او نشر چارې پر غاړه لري کولای شي، چې د اثر لپاره نوم وټاکي، چې دا چاره جایز گڼل کیږي (نذیر، ۱۳۹۷: ۲۲۲).

۲- معمولاً کوشش کیږي، چې د مشهورو او پیژندل شوو لیکوالانو د مهمو او مشهورو اثارو څو فصلونه یا موضوع گانې تر یو نوی نوم لاندې نشر شی، چې کوم ډول تغیرات؟ د پخوانیو مشهورو علماوو او لیکوالانو په آثارو کې را وستل کیږی او داسې فکر کیږي، چې دا نوی اثر دی او د لومړي ځل لپاره چاپ او نشر شوی دی؛ ولې په حقیقت کې دا نوی اثر نه دی او د همغه پخواني اثر مهم فصلونه او موضوعگانې تر یوه نوي نوم لاندې چاپ شوی دي (نذیر، ۱۳۹۷: ۲۲۴).

۳-کله کله د اثر د نامه یا سرلیک په بدل کې چې د اصلي مؤلف له خوا ایښودل شوی وي د چاپ او نشر مطبعې له خوا یو لړ رسمونه او تصویرونه ور اضافه کیږي، مثلاً د انسان داسې رسم چې په قبر یا جهنم کې د عذاب په حالت کې وي یا د جن یا شیطان تصویر او یا هم داسې تصویرونه په اثر کې رسمول، چې انسان ته غیبي امور په فکر کې وروليي، نو د داسې شیانو رسمول د کتابونو پر پوښونو باندې شرعاً حرام دی، ځکه پدې کار سره د غیبي امورو ښودل دي او دا جواز نه لري او د غیبي امورو په کیفیت باندې پرته له الله جل جلاله څخه بل هېڅوك نه دي خبر ، لکه چې الله تعلی فرمايي: (قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ الْغَیْبَ اِلَّا اللّٰهُ١وَ مَا یَشْعُرُوْنَ اَیَّانَ یُبْعَثُوْنَ) (النمل:۱۶۵). ژباړه: دوې ته ووایه په اسمانونو او ځمکه کښې هېڅوك له الله پرته دغیبو علم نلري او هغوی نه پوهېږي، چې کله به هغوی راپاڅول کیږي.

بله دا چې د دې ډول رسمونو او علامو په رسمولو کې دروغ ښکاري. په همدې ترتیب سره دا کار د اثر د خاوند په حقونو هم یو ډول تیری دی، چې د اثر په پوښ یې دا ډول رسمونه ور اضافه کیږي. ځکه هغه ورته ددې کړنو د تر سره کولو اجازه نه ده ورکړې او بې له اجازې د بل چا په مال یا

په حقونو کې تصرف کول حرام کار دی. ځکه دا په ناروا طریقه د بل مال خوړل یا اخیستل دي او له دې کار څخه الله جل جلاله خلك منع کړي دي، لکه چې فرمایي: (وَ لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَ تُدْلُوْا بِهَآ اِلَى الْحُكَّامِ لِتَاْكُلُوْا فَرِيْقًا مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنُ) (الْبَقَرَة: ۱۸۸). ژباړه: او تاسې په خپلو مینځو کښې یو د بل مال په ناروا توګه مه خورئ او مه یې هغه حاکمانو ته په دې غرض وړاندې کوئ، چې تاسې ته په قصدي توګه او ظلم سره د نورو خلکو د یو څه شتمنۍ د خوړلو فرصت په لاس درشي.

**۲. ۴. ۲. په خپله تألیف یا اختراع کې بدلون راوستل**

د قاعدې پر بنسټ د مال د اصلي خاوند له اجازې پرته د نورو په اموالو کې تصرف کول حرام دي، چې دا فقهي قاعده پدې ډول ده: (لا یجوز لأحد أن یتصرف فی ملك الغیر بلا إذنه) (الزحیلی، ۱۴۲۷: ۵۵۱). ژباړه: له اجازې پرته دهېچا لپاره جایز نه ده، چې د بل ملك یا کوم حق کې تصرف وکړي.

نو همدې اصل ته په کتو سره د هېچا لپاره روا نه ده، چې د نورو په تالیفاتو یا اختراعاتو کې د څښتن له اجازې پرته بدلون راوړي. په اختراع شوي یا تألیف شوي شي کې بدلون را وستل لاندې دوه صورتونه لري (فضلی، ۱۳۹۹: ۱۳۴).

**۲. ۴. ۲. ۱. د تالیف یا اختراع په اصلي نسخه کې دبدلون راوستل**

د تألیف او اختراع په اصلي نسخه کې بدلون راوستل په دې ډول دي، چې شخص په قصدي ډول په اصلي نسخه کې چې د اصلي مالك په لاس کې وي او یا هم د بل شخص په لاس کې چې د عاریت، امانت او یا هم رهن په شکل ورسره ایښودل شوی وي، بدلون راوړي یعنې کوم مطلب په کې کم یا زیات او یا هم حذف کړي؛ نو په دې صورت کې تغیر راوستونکی د بل چا په ملك او مال کې پرته د اصلي مؤلف له اجازې څخه تصرف کړی دی او د هغه څه مسؤول دی، چې له دې تصرف کولو څخه رامنځ ته کېږي، ځکه چې که شخص د بل چا په مال کې داسې بدلون راوړي، چې د مال د له منځه تګ لامل شي، بدلون را وستونکی مسؤول پېژندل کیږي او ضمان ورباندې لازم دی. دا چې دا ډول بدلون راوړل د مال د تلف کېدو سبب ګرځیږي، نو پدې اړه یوه فقهي قاعده شته، چې وایي: (مَن أتلَفَ مالَ الغیرِ فهُوَ له ضامنٌ). ژباړه : هر څوك چې د بل چا مال تلف کړي د هغې ضامن دی

دغه قاعده د تالیف او اختراع په برخه کې هم د عملي کېدو وړ ده او هغه په دې ډول، چې که چېرې د بدلون راوړونکي د بدلون د کړنې له امله تالیف یا اختراع شوی شی له منځه لاړشي، نو بدلون راوړونکی مسؤل دی(نذیر، ۱۳۹۷: ۲۱۴).

**۲. ۴. ۲. ۱. په اختراع شوي شي یا چاپ او نشر شوي اثر کې بدلون راوستل**

په جوړو شوو یا چاپ شوو نسخو کې بدلون راوړل پدې ډول دي، چې تولیدي مؤسسه یا مطبعه اختراع یا تالیف په داسې شکل تولید یا چاپ کړي، چې د هغه صورت او شکل سره مخالف وي کوم، چې اصلي مؤلف یې ورته ټاکلی وي، مثلاً د کارخانې او مخترع ترمنځ د اختراع شوي شي د جوړولو او تولید قرارداد پداسې شکل ترسره شي، چې د تولید کېدونکي شي شکل او صورت مخترع و ټاکي او له دې وروسته تولیدي مؤسسه په نوموړي شي کې بدلون راوړي او بیا یې تولید کړي. په

دې حالت کې توليدوونکی لوری د معنوي ملکيت حقونو په ځښتن باندې تېری کړی دی؛ خو کله چې يو شخص د اختراع يوه توليد شوې نسخه له بازار څخه وپيري او بيا په کې بدلون راوړي، نو په دې حالت کې نوموړي شخص په خپل ملك کې تصرف کړی دی او هېڅ ډول تېری يې د مخترع په حقونو باندې ندی ترسره کړی (الشهرانی، ۱۴۲۹ق: ۴۹۳).

په ليکل شوي اثر کې بدلون راوړل زيات صورتونه لري، چې په لاندې توګه ورڅخه يادونه کوو:

لومړی: کله کله يو شخص د مولف د بدنامولو په موخه د هغه په اثر کې بدلون راوړي. د بېلګې په ډول تاليف ته له خپله ځانه يوه موضوع اضافه کړي او هغه اصلي مؤلف ته منسوبوي، ترڅو مؤلف بدنام کړي په دې صورت کې علاوه پدې، چی د مولف په حقونو يې تجاوز ترسره کړی ،پخپله په مولف يی هم بهتان ويلی دی (فضلی، ۱۳۹۹: ۱۳۵).

دويم: ځينې وخت يو شخص د مؤلف په اصلي نسخه کې ددې لپاره بدلون راوړي، چې په ياده نسخه کې موجودې تېروتنې سمې کړي، پدې صورت کې دا ډول بدلون د څېړونکي او يا هم نشرونکي لخوا ترسره کيږي. هرکله چې دا ډول تېروتنې په نورو نسخو کې کيږي، نو پرڅېړونکي لازمه ده، چې ددې نسخو په حاشيه کې د يادو تېروتنو سمونې ته اشاره وکړي او که چېرته دا ډول تېروتنې د قرآن کريم په آيتونو کې شوې وي، نو پدې صورت کې ددې ډول تېروتنو سمونې له علمي امانت سره هيڅ ډول مخالفت نه ګڼل کيږي، ځکه چې د قران کريم احترام د مؤلف دحقوقو په احترام باندې مقدم دی (زرين‌کوب، ۱۳۷۷: ۱۱-۱۲)

دريم: د مؤلف له اجازې پرته په اثر کې د يوې موضوع کمول يا ډېرول، چې دا ډول تصرف د بل چا په ملکيت کې ناوړه عمل دی، ځکه په حقيقت کې اثر د مؤلف د عقيدې، افکارو او علمي انداز څرګندونه کوي. نو په علمي اثارو کې کموالی يا زياتوالی راوستل نه يوازې دا چې د اثر د مالك په منعوي حقونو تېری دی، بلکې د ټولې ټولنې په معنوي حقونو تېری ګڼل کيږي (نذير، ۱۳۹۷: ۲۲۶).

**۲. ۵. د اختراع له خاوند څخه تقليد کول**

اړينه ده چې په دې ځای کې په څلورو موضاعاتو باندې بحث وکړو، چې په لاندې عنوانونو کې يې په ترتيب سره ترڅېړنې لاندې نيسو:

**۲. ۵. ۱. د اختراع له خاوند څخه د تقليد پېژندنه**

د تقليد کلمه د عربي ژبې له (ق ل د) ريښې څخه ده، چې يو شي سره د بل شي تړلو او د دوی ترمنځ د پيوستون معنا لری او د همدې معنی په اساس دا کلمه، يو شی د بل په غاړه کې اچولو په مفهوم هم کارول کيږي (ابن منظور،۱۴۱۴: ۳۶۵). همدارنګه تقليد په لغت کې د پيروي، د غاړې بند، يا هم د غاړې ځنځير په معنا کارول کيږی (گروه مؤلفين انتشارات ايمان، ۱۳۸۳: ۹۸). او د معنوي ملکيت حقونو په اصطلاح کې تقليد دې ته وايې، چې يو شخص د اصلي او پخواني مخترع له کارونو څخه پيروي

کوي، څو د هغه د اختراع کړای شوي شي په څېر یا هغه ته نږدې یو شی تولید کړي او د هغې له مخې د خپل ځان لپاره د مادي او مالي لاسته راوړنو او ګټې زمینه برابره کړي (نذیر، ۱۳۹۷: ۲۱۷).

**۲. ۵. ۲. د اختراع له خاوند څخه د تقلید صورتونه**

له اختراع او بشري مصنوعاتو څخه تقلیدکول بېلابېل صورتونه لري، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:

**۲. ۵. ۲. ۱. له اصلي مخترع څخه په ټولو برخو کې تقلید کول**

یعنې داسې وسیله تولید کړي، چې له اصلي اختراع سره دکارکولو د طریقې، ظاهري شکل، د تولید کوونکي نوم او تولیدي یا تجارتي نښې په برخو کې پوره ورته‌والی ولري، په دې صورت کې تقلید کوونکی د تزویر او فریب مرتکب شوی دی او سربېره پردې یې تولیدکوونکی شرکت او د هغه سوداګریزه نښه، چې اصلاً د بل شخص پورې اړه لري خپل ځان ته منسوب کړی دی (تقلید از علائم تجاری و اختراعات و رقابت مکارانه،( https://companyregister.ir/ ,1403/7/6, 10: 32pm.

**۲. ۵. ۲. ۲. له اصلي مخترع څخه داسې تقلید کول، چې نوم او نښه یې د اصلي اختراع سره توپیر ولري**

دا ډول پیروي کول خپل ځان ته د بل شخص د شي نسبت ورکول نه دي، بلکې ورته نږدې دی، ځکه چې تقلید کوونکی سربېره پر تقلید اختراع شوی شی خپل ځانته منسوبوي او خپله سوداګریزه نښه وربانديې نښلوي (نذیر، ۱۳۹۷: ۲۱٦).

**۲. ۵. ۲. ۳. له اصلي مخترع څخه داسې تقلید کول، چې د اختراع له ظاهري شکل سره توپیر ولري**

یعنې له اصلي مخترع څخه په داسې شکل پیروي کول، چې د اختراع شوي شي له ظاهري شکل سره، د تولید شوي شي ظاهري بڼه توپیر ولري، په دې حالت کې تقلید کوونکی په داخلي برخو او د کار کولو په طریقه کې له اختراع شوي شي څخه تقلید کوي، ولې دا چې اصلي نوم یا د اختراع خاصه نښه یې حذف کړې، نو بدلون یې د اختراع تر ظاهري شکل پورې محدود کړی دی (نذیر، ۱۳۹۷: ۲۱٦).

**۲. ۵. ۲. ۴. د اختراع شوي شي د رامنځته کولو په طریقه کې تقلید کول**

په دې صورت کې تقلید کوونکی د مخترع د کار کولو له طریقې څخه پیروي کوي، چې دا ډول پیروي د علمي اثارو او افکارو له اقتباس سره ورته‌والی لري. په دې حالت کې زیاتونه یاکمونه یا بل هر ډول بدلون د اختراع شوي شي دځانګړتیاوو په یوه برخه کې رامنځته کیږي. په اوسنیو شرایطو کې ډېری اختراعات همدا ډول دي، ځکه چې په اوس وخت کې تقلید کوونکي، پخپلو اختراعاتو کې د پخوانیو اختراع کوونکو له نظریاتو او پخوانیو اختراعاتو د رامنځته کېدو له طریقو څخه ګټه اخلي. نو په همدې اساس دا ډول تقلید د معنوي ملکیت حقونو په څېښتن باندې تېری نه ګڼل کیږي (نذیر، ۱۳۹۷: ۲۱٦).

**۲. ۵. ۳. پر اختراع باندې د تقلید له لارې د تیري د واقع کېدو شرطونه**

تقليد هغه وخت د معنوي ملکيت د څښتن په حقونو تجاوز ګڼل کيږي، چې د لاندې شرايطو درلودونکی وي:

۱- اختراع بايد توليد شوي وي: هرکله چې د يوې اختراع په ډول، چې تر اوسه پورې توليد شوی نه وي، يو شی توليد شي، تقليد نه بلل کيږي. که هر څو د هغه څښتن د اختراع د انحصاري حق تصديق ترلاسه کړی وي.

۲- په اختراع کې له تقليد څخه موخه مادي ګټه لاسته راوړل وي: له همدې کبله د مخترع پر حقونو تقليد هغه وخت تېری ګڼل کيږي چې هدف له دې توليد څخه چې اختراع ته ورته وي، مادي ګټه لاسته راوړل وي (الناهی،ب-ت: ۱۹۵-۱۹۶).

**۲. ۵. ۴. د اختراع له څښتن څخه د تقليد کولو حکم**

له اختراعاتو څخه تقليد کول د لاندې دلايلو پر اساس جواز نه لري:

الف: په ذکر شوو لومړنيو درې صورتونو کې د اختراع له څښتن څخه پيروي کول د هغه پرحقونو تېری او په مادي او معنوي لحاظ د مخترع د زيانمن کېدلو سره تړوا لري.

ب: په لومړني صورت کې له اختراع څخه تقليد خلکو ته فرېب او تزوير ورکول ګڼل کيږي،ځکه چې تقليد کوونکی له توليد شوي شي څخه، چې اصلي اختراع ته ورته وي ا وبازار ته يې وړاندې کوي داسې ښکاره کوي، چې دا توليد شوی شی اصلي اختراع ده، په داسې حال کې چې حقيقت داسې نه دی، همدارنګه ددغه کار تحريم او ناروا والی له هيچا څخه پټ نه دی.

ج: په دوهم صورت کې تقليد کوونکی د اصلي مخترع د هڅو نسبت خپل ځانته ورکوي، پداسې ډول چې د مخترع نوم يا د هغه د توليدي شرکت نوم، چې اختراع پکې توليديږي او يا هم هغه سوداګريزه نښه، چې په هغې باندې اختراع توليديږي، حذف کوي او پر ځای يې خپل نوم يا خپله سوداګريزه نښه لګوي.

د: په توليد کې له اختراعاتو څخه عامو خلکو ته ضرر رسېدل او په باطله طريقه د هغوی د اموالو خوړل دي، سربېره پردې له اختراعاتو ناروا تقليد د معصومو انسانانو ځانونو ته خطر متوجه کوي. د بېلګې په توګه د هغه مهمو وسايلو او الاتو په توليد او جوړولو کې تقليد کول، چې د نقليه وسايطو لکه الوتکو، ريل ګاډو او موټرو په جوړښت يا هم د ځېنو برېښنايي يا طبي سامانالاتو په جوړښت کې چې کارول کيږي (نذير، ۱۳۹۷: ۲۱۷).

**۲. ٦. د کمپيوټري برنامو او سمعي او بصري موادو کاپي کول**

لکه څرنګه چې ليدل کيږي پورته عنوان دوه برخې لري، چې يوه يې د کمپيوټري برنامو او بل يې د سمعي او بصري موادو کاپي کول دي، نو دا هر يو يې د لاندې فرعی سرليکونو په ترڅ کې تر تربحث لاندې نيسو:

**۲. ٦. ۱. د کمپيوټري برنامو کاپي کول**

کمپیوټر یوه انګلیسي کلمه ده، چې د (to compute) له کلمې څخه اخیستل شوې او د حساب کوونکي او شمارونکي معنا لري (ایوب ،۲۰۱۱ م : ۱۷۷). او په اصطلاح کې کمپیوټر عبارت له هغه بریښنايي ماشین څخه دی، چې پروګرام منونکی وي (فیضی،۱۳۹۰: ۵).

برنامه یو فارسي لفظ دی او د یوه بنسټ دکار د کړندود په معنا دی او یا هم د هغو کارونو مجموعه، چې په یوه مشخص هدف پای ته رسیږي (الشهرانی، ۱۴۲۹ق: ۵۰۶). نو کمپیوټري برنامې له هغه ښوونو او تعلیماتو څخه عبارت دي، چې د کمپیوټر په دستګاه کې رامنځته کیږي، په خاصه ژبه لیکل کیږي او د یوې خاصې پایلې او معلومې موخې لپاره ورڅخه استفاده کیږي (Bainbridge, 2000:24 ).

یا هم کمپیوټري برنامه د هغو لارښوونو مجموعې ته ویل کیږي، چې کمپیوټر یې د یوې ځانګړې دندې په ترسره کولو کې اجرا کوي. دا لارښوونې د کمپیوټر د فعالیت لپاره حیاتي اهمیت لري، ځکه چې کمپیوټر د هر ډول کار کولو لپاره پروګرامونو ته اړتیا لري ( Vivant, 2002:136).

دا روښانه خبره ده، چې کمپیوټري برنامې ددې زمانې د پوهانو او متخصصینو لخوا، چې د کمپیوټر په تولیدي شرکتونو کې کار کوي رامنځته کیږي او دوی د دې ډول برنامو په برابرولو کې زیات کار ترسره کوي او زیات وخت غواړي، نو په همدې اساس دا برنامې د دوی معنوي حق دی، نو ځکه تر ملاتړ لاندې نیول کیږي ( نذیر، ۱۳۹۷: ۲۱۸).

**۲.۶.۱.۱. د کمپیوټري برنامو د کاپي کولو حکم**

که چېرته د کمپیوټري برنامو څښتنانو د کاپي کولو اجازه ورکړې وي، په دې صورت کې د دغو برنامو د کاپي کولو په برخه کې هیڅ ډول شرعي او قانوني مانع نشته، ځکه پدې حالت کې هغوی خپل انحصاري حقونه له منځه وړي او ساقط کړي یې دي، نو ځکه هرڅوک کولی شي نوموړې برنامې کاپي او ګټه ورڅخه واخلي.

اما که چېرې د ذکر شوو برنامو څښتنانو د کاپي کولو اجازه نه وي ورکړې، په دې صورت کې د کمپیوټري برنامو کاپي کول له لاندې دوه صورتونو څخه خالي نه دي:

۱ـ د کاپي کولو څخه موخه شخصي استفاده کول وي: کله چې یو څوک و غواړي کمپیوټري برنامې د علمي استفادې په منظور کاپي کړي، په دې حالت کې د دې برنامو کاپي کول جایز دي او اصلي څښتنان یې نشي کولی، چې څوک د خپلو برنامو له کاپي کولو څخه منع کړي.

۲ـ له کاپي کولو څخه موخه مالي ګټه لاسته راوړل وي: کله که یو څوک غواړي، چې د سوداګریز او اقتصادي ګټې د تر لاسه کولو په موخه کمپیوټري برنامې، چې د بل چا لخوا رامنځته شوې وي کاپي کړي، نو په دې صورت کې باید ولیدل شي، چې ایا د دې ډول برنامو څښتنان حربي کافران دي او کنه. که چېرته یې څښتنان کافران وي او له مسلمانانو سره د جګړې په حالت کې قرار ولري، نو پدې صورت کې په همغه شکل لکه څنګه چې د دوی ځانونه او مالونه خوندي نه دي، په هماغه ډول سره د کمپیوټري برنامو کاپي کول، چې د دوی اړوند وي هم جایز دي، که څه هم دوی له کاپي کولو څخه منع هم راوړې وي ( نذیر، ۱۳۹۷: ۲۲۰).

که چېرته ددې برنامو څښتنان یا تولیدونکي حربي کافران نه وي. نو دلته دا کسان حتماً یا مسلمانان دي او یا هم غیرې حربي کافران دي. که د کمپیوټري برنامو څښتنان یا تولیدونکي مسلمانان وي، نو پدې حالت کې د کمپیوټري برنامو کاپي کول د د سوداګري او مادي ګټې لاسته راوړلو په موخه پرته د دوی له اجازې څخه جایز نه دي، ځکه په دې صورت کې د نوموړو برنامو کاپي کول په ناروا طریقه د بل چا د اموالو د خوړلو په حکم کې راځي چې الله (جل جلاله) له دې کار څخه منع فرمایلې ده، لکه چې فرمایي:

(وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ) (سورت البقره ایت نمبر ۱۸۸).

ژباړه: تاسو خپل مالونه په خپل منځ کې په ناروا طریقه سره مه خورئ.

همدارنګه دا چې پدې کار سره د کمپیوټري برنامو اصلي څښتنانو ته مالي زیان رسېدل متصور دي او زیان رسول مسلمانانو ته حرام کار دی. لکه څنګه چې له حضرت عباس (رضی الله عنه)څخه روایت شوی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

(لَاضَرَرَ وَ لَاَ ضِرَارَ فی الاسلام) (القزوینی ، ب-ت: ۱۶۹).

یعنې چاته زیان رسول او له چا سره په ضرر مقابله کول جواز نه لری. همدا شان د کمپیوټری برنامو کاپی کول د مسلمانانو د مال اخیستل پرته د دوی له اجازی څخه شمیرل کیږی چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم له دې کار څخه هم منع فرمایلې ده لکه چې فرمایلی یې دی:

(لَايُحِلُّوْمَالِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ اِلَّا بِطَيِّبِ نَفْسُ مِنْهُ). (البیهقی، ب-ت: ۴۷۱).

ژباړه: د مسلمان مال خوړل پرته د هغه له اجازې څخه حلال نه دي.

که چېرې د کمپیوټري برنامو اصلي څښتنان غیرې حربي کافران یعنې معاهد او مستأمن وي، نو په دې صورت کې له فقهاوو څخه لاندې دوه قولونه ذکر شوي دي:

۱ـ د علمي څېړنو او افتاء د دایمي کمېټې نظریه: د اصلي مالکانو له اجازې څخه پرته د دې ډول برنامو کاپي کول جواز نه لري، ځکه چې د غیرې حربي کافرانو حقونه د مسلمانانو د حقونو په شان محترم دي، لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

(وَالْمُسْلِمُوْنَ عَلَى شُرُوْطِهِمْ اِلَّاشَرْطاًحَرَّمَ حَلَالاً اَوْ اَحَلَّ حَرَاماً) ( الترمذی، ب-ت: ۳۸۳).

ژباړه: مسلمانان پخپلو شرطرنو باندې مکلف دي، مګر دا شرط چې حلال حرام اوحرام حلال کړي.

د پورتنیو نصوصو په پام کې نیولو سره د کمپیوټري برنامو کاپي کول، چې مالکان یې مسلمانان یا غیرې حربي کافران وي جواز نه لري، ځکه چې د غیرې حربي کافرانو حقونه د مسلمانانو دحقونو په شان د احترام وړ دي.

۲ـ د عبدالله بن عبدالرحمن الجبرين[1] نظريه: دا عالم په دې باور دی، چې د غير حربي کافرانو د کمپيوټري برنامو کاپي کول جواز لري، ځکه چې هغوی په مسلمانانو هيڅ ډول حق نه لری، هر څوک چې وغواړي د دوی له اجازې پرته نوموړې برنامې کاپي کړي، نوکولی يې شي . اما حسين بن معلوی الشهرانی په خپل ليکلي کتاب کې وايي، چې د دې موضوع په اړوند بايد د امت عمومي مصالح او نوموړو برنامو ته د دوی اړتياوې په نظر کې ونيول شي. که چېرې د کمپيوټري برنامو له څښتنانو سره ددې برنامو د پېرېدلو په اړوند داسې تړون شوی وي، چې دوی نه شي کولی د اصلي مالکانو له اجازې څخه نوموړې برنامې کاپي کړي، نو پدې حالت کې د مقابل لوری د تړون لپاره ددې کمپيوټري برنامو کاپي کول جايز نه دي، او پر دوی لازم دي، چې په عقد کې موجودو شرايطو ته وفادار پاتې شي (الشهرانی، ۱۴۲۹ق: ۵۱۷-۵۱۸).

لکه څرنګه چې الله (ج) فرمايي:

(أَيُهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوۡفُواْ بِٱلۡعُقُودِ ) ( سورت المايده،۱).

يعنې ای هغو کسانو، چې تاسو ايمان راوړی دی پخپلو کړو عقدونو باندې وفا وکړئ.

**۲. ٦. ۲. د سمعي او بصري موادو کاپي کول**

**دا چې** سمعي او بصري وسايل د بېلابېلو موخو لپاره کارول کيږي او ددې ډول وسايلو حکم هم د هغه محتوا ته په کتو سره بېلابېل شکلونه لري، چې کله حلال، کله حرام او کله هم د حلال او حرام ترمنځ د شک په حالت کې قرار لری. دلته موږ په هغه وسايلو باندی بحث کوو، چې د هغې موضوع

[1]- شيخ عبد الله بن عبد الرحمن الجبرين په ۱۳۵۲هـ. ق کال د سعودي عربستان، د رياض اړونده د الرين ښارګوټي د القويعيه په يو کلي کې نړی ته سترګې غړولي. هغه خپلې لومړنۍ زده کړې په ۱۳۵۹ق کال کې پيل کړي او په ۱۲ کلنۍ کې يې قران کريم په ناظره ياد کړ او وروسته يې ۱۳٦۷ ق کال کې حفظ کړ. له دې څخه وروسته يې له خپل استاد د ابي حبيب څخه د احاديثو کتابونه لکه صحيح مسلم، صحيح بخاری، مختصر سنن ابی او د سنن ترمذی يوه برخه يې له شرح تحفة الأحوذی سره يو ځای زده کړل. ددې تر څنګ يې د حديثو او تفسير نور کتابونه هم يا کړل. ددې تر څنګ شيخ د امامت عهده هم په غاړه لرله او بېلابېل تأليفات يې هم تر سره کړي دي. په ۱۳۹۰ ق کال کې د «أخبار الآحاد فی الحديث النبوی» د رسالې په ليکلو کولو سره يې د فوق ليسانس ( ماسترۍ) درجه لاسته راوړه. په ۱۳۹۹ ق کال کې هغه د شرعياتو په پوهنځي کې د دوکتورا درجې د لاسته راولو لپاره «تحقيق شرح الزرکشی علی مختصر الخرقی» په نامه موضوع د رسالې لپاره و ټاکله او د مناقشې او دفاع څخه وروسته يې د دوکتورا سند هم ترلاسه کړ د علومو له بشپړولو څخه وروسته شيخ په ۱۴۰۲ق کال کې د علمي څېړنو، فتوی، دعوت او ارشاد په اداره کې د افتاء د غړي په توګه ومنل شو د فتواو د صادرېدو مسؤليت په غاړه واخيست. او هم يې د شرعياتو په پوهني کې د فقه او قانون په څانګه کې د استاد په حيث دنده تر سره کوله.هغه په ۱۴۳۰ ق کال د رجب مياستې په ۲۰ نېټه ( ۲۰۰۹ م د جولای ۱۳) د ۷۸ کالو په عمر له نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د رياض ښار اړونده د العود په هديره کې خاورو ته وسپارل شو. وګوره:

زندګي‌نامه علامه دکتر عبدالله بن عبدالرحمن الجبرين, 1403/9/9, 2:30PM, https://tafsirequran.blogfa.com/post/267/-

مباح او مفید علوم دي. دا چې د سمعي او بصري موادو کاپي کول، چې د هغه موضوع مباح او مفید علوم وي د هغه د څښتنانو له اجازی څخه پرته جایز دي او که څنګه؛ پدې هکله باید ووایو، چې دا موضوع له دوو حالتونو څخه خالي نه ده :

۱ـ که چېرته د سمعي او بصري موادو له کاپي کولو څخه موخه سوداګري نه وي، بلکې د هغې له محتوا څخه د علمي ګټې اخیستنې په موخه یې کاپي کول صورت موندلی وي، نو په دې حالت کې د نوموړو موادو کاپي کول جواز لري او د کاپي کولو په وخت کې یې د اصلي څښتنانو اجازې ته هم اړتیا نشته.

۲ـ که چېرې د نوموړو موادو له کاپي کولو څخه موخه سوداګري او مالي ګټه لاسته راوړل وي، نو په دې حالت کې لیدل کیږي، چې د نوموړو موادو څښتنانو نور اشخاص پدې جملې سره (د چاپ حقوق د اثر څښتن سره خوندي دي ) له کاپي کولو څخه منع کړي دي، نو په دې صورت کې د نوموړو موادو کاپي کول جایز نه دي او دا د اصلي څښتنانو په حقونو باندې تېری ګڼل کیږي، ځکه د هغې کاپي کول ذکر شوي اشخاص په مالي او اقتصادي لحاظ متضرر کوي، او که چېرې یې د پورتنی ذکر شوې جملې په نه کارولو سره اشخاص د موادو له کاپي کولو څخه نه وي منع کړی، نو په دې صورت کې نور اشخاص کولی شي نوموړی مواد کاپي کړي او ګټه ورڅخه واخلي (الشهرانی، ۱۴۲۹ق: ۵۲۱-۵۲۲).

ځینې علماوو لکه محمد بن عثیمین هغه نوارونه (کېستې ) چې پر دیني او شرعي علومو مشتمل وي له پورته ذکر شوي اصل څخه مستثناء کړي دي او وایي چې، خلک د دې ډول کېستو له کاپي کولو څخه چې پر شرعي علومو سمبال وي منع کول جواز نه لري، ولې د نوموړو کېستو څښتنان کولی شي، تر هغه وخته پورې نور اشخاص ددې ډول کېستو له کاپي کولو څخه منع کړي، چې لګښتونه یې ور باندې کړي وي او په لاس یې نه وي راوړي، خو کله چې دوی خپل کړي لګښتونه پوره کړل، نو بیا نشي کولی نور اشخاص یې له کاپي کولو څخه منع کړي، ځکه په دې وخت کې له کاپي کولو څخه منع کول علمي احتکار بلل کیږي (نذیر، ۱۳۹۷: ۲۲۳).

## پایلیزه

د پورته بحث څخه مو لاندې پایلې ترلاسه کړې دي:

۱ـ د تألیف او اختراع په حقونو د تېري موضوع په اسلامي (حنفي) فقه او د افغانستان په قوانینو کې د پوره پاملرنې وړ موضوع ده او په دې حقونو د تېري موارد لکه اقتباس، د تالیف د چاپ او اختراع د تولید نوی والی، داثر ژباړه، د اختراع له خاوند څخه اقتباس کول او همدارنګه د کمپیوټري برنامو او

سمعي او بصري موادو کاپي کول، چې په غیر مشروع توگه تر سره کیږي په پوره تفصیل سره د هغوی اړوند احکام تر څېړنې لاندې نیول شوي دي.

۲-دا چې مؤلف او مخترع د ټولنې په پرمختګ او هوساینه کې د پام وړ رول لوبوي، نو دې ارزښت ته په کتو سره چې په ټولنه کې یې لري، د اسلامي فقهې او قوانینو لخوا تر هر اړخیز ملاتړ لاندې نیول شوي دي، زمونږ هېواد هم نوموړي اصل ته په کتو سره د مؤلف او مخترع حقونو ته پوره پاملرنه کیږي او هغه دا، چې ددغه حقونو د نقض پر وړاندې یې کوټلي گامونه پورته کړي دي او ددې حقونو د تضمین لپاره یې په اړونده قوانینو کې پوره ملاتړ کړی دی.

## وړاندیزونه

د یادې موضوع له څیړنې څخه وروسته لاندې وړاندیزونه لرو:

۱- دولت ته مو لومړی وړاندیز دادی، چې په پوره کوټلي اقداماتو سره د مؤلف او مخترع په حقونو د تېري مخنیوی وکړي او په واقعي معنا سره ددې حقونو د نقض مرتکبین تر عدلي او قضایي تعقیب لاندې راوستل شي.

۲- قانون جوړونکي ارگانونه په ځانگړې توگه د لوړو زده کړو وزارت باید ټولو اکاډمیکو بنسټونو او د علم او هنر مرکزونو ته داسې اصول او کړنلارې وړاندې کړي، تر څو هغه اشخاص چې تألیفات او اختراعات په غیر مجوز ډول په ځان پورې تړي او د اصلي پنځوونکو حقونه تر پښو لاندې کوي، له دې کار څخه منعه شي او اړ شي، څو خپله یوه نوې څېړنه یا اختراع رامنځته کړي.

۳-په ټولنه کې هغه ځوانان تشویق کړای شي، چې په نشت وسایلو او امکاناتو سره اختراعات کوي، همدارنگه د دوی لپاره باید په خپل مسلك کې د پرمختګ پوره زمینه برابره کړي.

۴ـ اړونده ادارات باید د مؤلف او مخترع د حقوقو د ارزښت او په دې حقونو باندې د تېري مواردو او د هغې د ناوړه پایلو په باره کې د عامه پوهاوي پروگرامونه، په ټولنه کې په لاره واچوي.

## سرچینې


قرآنکریم

۱ـ البیهقی، أبو بکر أحمد بن الحسین بن علی (۱٤۳۲ هـ.ق). السنن الکبیر البیهقی، القاهرة، الناشر: دار هجر- جامع الکتب الإسلامیة.

۲ـ الترمذی، ابو عیسی محمد بن عیسی بن سبورة ( ب-ت). سنن الترمذی، الجزء الاول، پیشاور، مکتبه حقانیه.

۳ـ الجرحانی، علی بن محمد السید الشریف (۱٤۱۳ق). معجم التعریفات، القاهره، دار.الفضیلة.

٤- الزحیلی ، محمد مصطفی ( ۱٤۲۷). القواعد الفقهیة وتطبیقاتها فی المذاهب الأربعة،ج۲، دمشق، الناشر: دار الفکر.

٥ـ الشهرانی، حسن بن معلوی ( ۱٤۲۹ق). حقوق الاختراع والتألیف فی الفقه الاسلامی، ریاض، دارطیبة للنشر والتوزیع.

٦ـ القزوینی، ابو عبدالله ابن ماجة ( ب-ت). سنن ابن ماجه ، کراچی، قدیمی کتب خانه.
۷ـ مجدی وهبة، کامل المهندس (۱۹۸۴). معجم المصطلحات العربیة فی اللغة والأدب ، بیروت :مکتبة لبنان ناشرون.
۸ـ الناهی، صلاح الدین ( ب-ت). الوجیز فی الملکیة الصناعیة والتجاریة، بیروت الاردن، دارالفرقان للنشر ولتوزیع.
۹ـ ایوب زاده، عارف، (۲۰۱۱ م ) قاموس عارف، کابل، نیو کابل خپرندویه ټولنه.
۱۰ـ د مخترع او مکتشف د حقوقو د ملاتړ قانون (۱۳۸۷ه ش ). عدلی وزارت، ۶۴ رسمی جریده .
۱۱ـ د مؤ لف، مصنف، هنر مند او محقق د حقوقو د ملاتړ قانون ( ۱۳۸۷ه ش ). عدلی وزارت، ۵۸ رسمی جریده.
۱۲- زرین‌کوب، عبدالحسین (۱۳۷۷هـ. ش) روش علمی در نقد و تصحیح متون ادبی،تهران،آینهٔ میراث.
۱۳ـ شیما، خضرالنادی ( ۲۰۱۲م ). براة الاختراع فی الفقه الاسلامی وتطبیقاتها المعاصر فی فلسطین من کلیة القانون والشریعة الاسمیة غزه، مکتبة عین الجامعة.
۱۴ـ عمید، حسن ( ۱۳۸۹ ). فرهنگ عمید، تهران، انتشارات راه رشد.
۱۵ـ فضلی، فضل هادی ( ۱۳۹۹ه ش ). د معنوی ملکیتونو حقوق، جلال آباد، یار خپرندویه تولنه .
۱٦- فیضی عبدالستار ( ۱۳۹۰هـ.ش). د کمپیوټر زده کړه، خپرندویه: لر او بر کتابتون.
۱۷- قاسم‌نژاد، علی.(ـــ). "اقتباس ادبی". دانشنامه ادب فارسی2: فرهنگنامه ادب فارسی.
۱۸-کزازی، جلال الدین ( ۱۳۷۴هـ.ش).کندو کاوی در هنر ترجمه، تهران، انتشارات جامی.
۱۹ـ گروه مؤلفین انتشارات ایمان (۱۳۸۳). فرهنگ دانش، میدان انقلاب چاپخانه یې دریا.
۲۰- محمد زاده وادقانی ( ۱۳۹۸ه.ش). برگردان نو و برداشتی از مواد معاهده برن سند پاریس ۱۹۷۱، تهران، دفتر حقوقی وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی.
۲۱ـ معین، محمد معین ( ۱۳۸۸). فرهنگ معین، جلد۱، تهران: مؤسسهٔ انتشاراتِ امیرکبیر.
۲۲ـ مندی، جرمی (۲۰۱۰). مدخل إلی دراسات الترجمة: نظریات وتطبیقات، ترجمة: هشام، علی جواد. أبو ظبی، هیئة أبو ظبی للثقافة و التراث کلمة.
۲۳ـ نذیر، داد محمد (۱۳۹۱ه ش ). حقوق ملکیت معنوی د فقه اسلامی و قوانین وضعی،کابل، انتشارات حامد رسالت .
۲۴ـ نذیر، داد محمد (۱۳۹۷ ه ش ). در آمدی برحقوق ملکیت معنوی ، کابل، انتشارات حامد رسالت.
۲۵- تقلید از علائم تجاری و اختراعات و رقابت مکارانه، https://companyregister.ir/,1403/7/6, 10: 32pm

۲٦- سعیدی، مصطفی ۰۳/قوس/۱۳۹۹هـ.ش). حق مالکیت فکری؛ قانونی که روی یخ نوشته شد.
https://8am.media/fa/intellectual-property-rights-a-law-written-onice, 1403/7/6,10:22pm
۲۷- Bainbridge, David (2000). Introduction to Computer Law, Longman, Fourth edition.
۲۸- Vivant, Michel et autres (2002). Lamy droit de l'information et des réseaux, Guide, solutions et applications pratique contractuelle, éd. Lamy.

Two quarterly
Ainak Academic- Research Journal
Logar Higher Education Institute Journal license date: June/2023

# Investigation of provisions related to infringement of copyrights and inventions in Islamic jurisprudence and Afghanistan laws

**Nahfuzullah Arify[1], Zahidullah Shenwari[2] and Shahidullah Safi[2]**

[1] Department of Criminal Law, Faculty of Law and Political Science, Nangarhar University. Nangarhar: Afghanistan.

[2] Department of Judiciary and Prosecution, Faculty of Law and Political Science, Paktia University. Paktia: Afghanistan. Email : faseh1396@gmail.com

## ABSTRACT

Different forms of infringement on the rights of the author and inventor, from quotation, reprinting of the authorship or invention, illegal translation of the authorship, making changes in the authorship or invention, imitating the owner of the invention and computer programs and audio and visual. Copying of material is included. The importance of this research is that a society develops with the help of science and technology and for the survival of this development, standards, equivalent sciences and modern tools are needed in the society Therefore, this need is fulfilled in every society on the basis of compilations and inventions, which should be fully supported.

The main purpose of conducting this research is to get information about the provisions and cases of violation of copyright and invention in order to cause public awareness about this in the society. This research was done using the library method, in this research, reliable jurisprudence and legal books were used and has been done by using the laws of the country related to this topic. In result, we can be said that the situations of violation of the author's and inventor's rights are well explained in the Islamic Sharia and the laws of Afghanistan, because the author and inventor play a significant role in the development of a society, it should be fully supported

**Keywords:** provisions, invention, composition, infringement, rights.

**Cite this article:** Arify. Nahfuzullah Arify et al. (2024). Investigation of provisions related to infringement of copyrights and inventions in Islamic jurisprudence and Afghanistan laws. Ainak Academic – Research journal (Two Quarterly). 2(3): 128-149.Logar Higher Education Institute © The Author(s).